مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح‌الدین سعیدی

۲۰۲۶/۰۹/۱۷

# د ملت او اسلام اواز ته غوږ شئ

**د غوږو ډاکتر ته مراجعه حتمي ده!**

جناب متقی صیب له پینځو کلو روسته اوس واورېدل چي نړیواله او اسلامي ټولنه افغانستان کي د انجنو د ښوونځیو خلاصلاول غواړي!
دلته ښکاري د غوږو ډاکتر ته اړتیا شته!
اسلام امر کوي چي د علم کسب فرض دی!

۵ کاله اولاد ددي وطن چا بیسواده کړ او د پنجاب چوکیداري او ډاکتر ته محتاج کړ او ولي؟
دده مسوول څوک دی او څه جزایی او سیاسی عواقب باید ورته ولري!

نړی څه غواړي، نه غواړي، بوه خبر، د دي ملت اړتیا، د اسلام امر ، حق او د عقل غوښتنه څه وه او څه ده او د هغو سره مخالفت ولي او څوک مسوول دی؟

ددي پوښتنو ځواب د مشروع حاکمیت او سیاسي ساختار جوړولو او دغي پروسي ته لازمه آمادګي او د ملت د ارادي سره سم حاکمیت هغه مهم او بنیادی نکات او جوانب دي چي باید ورته کار شوای وای او وشي!

توتالیته او یک حزبه، کمونستی احزابو ورته استدلال کاوه چي مونږ د کارګرانو او زحمت کشانو له ادرسه حاکمیت جوړ کړای او قدرت مو د هغو په زور اخیستلای او حاکمیت کوو! او حاکمیت یي د سرنیزي په زور وکړ او کاوه! اوس له بوه بل اړخه د ۵ کلو راهیسي ورته استدلال کېږي! دواړو غلط استدلال کاوو!

مونږ د جمهوریت تر نامه لاندي مبتذل دیموکراسی او فورمال، پروژوي، ساختارونه او په ډېرو مواردو کي شکلي حرکات ردوو!

د بن کنفرانس، د همسایه ګانو د استخباراتو، ګویا همه شموله حاکمیتونه هم دوکه او خطاء وه. مونږ نه همه شموله او نه همه قبوله او نه قومي او ژبنیز تاجرانو په غوښتنه حاکمیت منو!

مونږ مشروع متداول حاکمیت غواړو!

که د ملت اراده او غوښتنه در سره ده، له ملته، څه ډار لرئ چي ورته مراجعه وکړئ؟

زمونږ موخه او هدف نه مبتذله انتخابات او نه د جمهوریت ترنامه لاندي خلک غولونه او د لوي جرګي تر نامه لاندي خلک غولونه ده!

مونږ د عدالت عمری تر سیوری لاندي د ملت ارادي ته د اسلام د ارزشونو په چوکات کي مشروع نظام، مشروع قوانین او مشروع دولت داری غواړو!

د سیاسی احزابو او مدنی سازمانو ته اجازه، د قانون تر نظر لاندي نظارت، د تعریف شوي لوي جرګي تدویر، د موقت اساسی قانون تسوید، بیا ټاکني او د ټاکنو روسته د اساسی قانون تصویب او حکومت د ۵ کلو لپاره ، د هغو چي ټاکنو کي یي انتخابات یي وړي!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزي بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

محلي منتخبو شورا ګانو ته د استراتيژی مسايلو کې صلاحيت، د پارلمانی ټاکنو روسته، جمهور رئيس د پارلمان لخوا انتخاب او د صدر اعظم نامزادول د جمهور رئيس لخوا او د کابينې او حکومت ته د اعتماد رأی د کل په توګه د پارلمان لخوا! صدراعظم بايد د هغه حزب او سياسی سازمان څخه وي چې پارلمان کې اکثريت لري !

د عدلی او قضايی ارګانو تقويت، امنيتی ځواکونه غير سياسی کول او د هغو مسلکي اړخ ته ستر پاملره، هغه وظايف دي چې همدا امارت اسلامی ورته مقدماتی ستر او تأريخي، کار کولای شي او بايد وکړي!

جناب متقی صيب که د خارجيانو د خبرو اوريدو توان درته پيدا شوای، دا د افغان غږ، د پوهې د مسلک غږ هم در سره واوره!
له وصوله اطمينان غواړم!
تفاصيل لرم!

داکتر صلاح‌الدين سعيدی
۲۰۲۶/۹/۱۶
۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ